مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۱۰/۰۴

# د شعر څو انتباهي تربیوی بیتونه

د زړه سوی او سوز او ګداز په هکله ډیرو شا عرانو د معنی نه ډکی رنګیني مصری او شعرونه وئیلي ، او په ادبی نثرونوکې هم،د اوښکو ډکو سترګو ستاینه ډیره شوي ،د اوښکو ډکو سترګو درلودل ، یعني خپل عا جزئ درک کول ، دا هغه کار دی ، چې دا لوی نعمت دیرو لږو او د ګوتو په شمیر انسانانو ته خدای تعالی ورپه برخه کړی ،د دغو رنګینو ځینو بیتونو یادونه په فارسی او پښتو ادب کې دلته کوو ،
د دي بیت شاعر اګر که راته معلوم نه دی خو په واقعیت سره یو ډیرښه د معنی نه ډک او رنګین بیت دی ، :

اګر این است مژګانی ترِ من
نخواهد آفتابِ محشرم سوخت

که زما سره دا د اوښکو ډکی سترګي وي ،نو خدای خبر که د محشر لمر هم ما وسوځوی ،د دي معنی دا چې په دنیا کې داسي سوز او ګدازکې یې ژوند تیر کړی وي ، یعنی د خپلي عاجزئ درک یې کړي وي چې تل ژړه غونی وي، اوبیا یې خپل انجام ته په پام کې نیولو سره یې په دنیا کې ښه ښه کارونه تر سره کړي وي ، او په ځان باوری وي ، یو ایرانی شاعر په نامه د عاقل هنر ور خان په خپل یو بیت کې ډیره ښه دي موضوع ته اشاره کړي ده ،

فیض آب دیده ، نتوان یافت در آب ِ وضو
کاش زاهد را به جای ریش مژګان تر شود
عاقل هنرور خان

یعنی د نمجنو سترګو یا اوښکو فیض او برکت د او داسه په اوبو کې نشته ، وایي کاشکی د زاهد د ږیري پر ځای باڼه لمده شي ،یعنی منظور د سوز او ګداز درلودل دي ،او دي معنی دا چې لمدی سترګي او یا چشمِ تر ولري ،د دي مراد زړه سوی او د اوښکو ډکي سترګي ولري ،او د عاجزئ لمن نیول دي ،
په یو بل بیت کې حضرت بیدل رحمت الله علیه وایي:

از محیط رحمتم ، اشکِ ندامت مژده ایست
یارب این نومید را ،محروم چشمی تر مکن
بیدل

بیدل وایي چې د رحمت د دنیا یا محیط څخه زما د پشیمانئ یوه اوښکه ده چې تا راکړی ،او دا ما ته یو زیری دی، نو وایي یاربه ! ما د لمدو سترګود فیض نه، مه محروم کوه ،ما په خپل دوه بیتونو کې ،چې د سوز او ګداز په هکله او د عاجزئ په هکله دی ، داسي وئیلي:

د محشر د لمر به تاو هم ، ماته نه وي
که زما سره وي دا ، نمجنې سترګي
نادر

او بیا په دا بل بیت کې د سوز او ګداز په هکله:

په یوه نفس به سوړ د محشر لمر شي
که دا خپل سوز او ګداز راسره مل وي

کله کله چې د عاجزئ د درک مرحلی ته نژدی شوی یم ، او کراتو می د عاجزی نه عبرت اخیستی نو بیا دا بیت می وبیلی دی:

ټول کتاب می د ګناهونو شو کنګال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

هغه دَم چي په خپل اوښکو لمبيدلم
نادر
بل ځای بيا حضرت بيدل وايي ، چي زمونږ بيدردی هم ، د دي فلک يا آسمان لاندی عجيبه ده ، چي د لوګي په کور کي يو خو زمونږ بانه لامده نه دي ، يعني مطلب دا چي په دنيا کي ډير داسی ، صحني وينو او زمونږ تر مخي تيريږي ،چي د ژړيدو وړ دي ، خو زمونږ سره دومره سوز او
درد نشته چي زمونږ سوز او ګداز راوپاروی ، او يا زمونږ په باړخوګانو د عاجزی اوښکي جاري شي ،او هغه شعر دا دی ،
:بيدردئ ما زير فلک سخت غريب است
در خانهٔ دوديم ، کسی را مژه تر نيست
بل ځای حضرت بيدل:
و هغه زاهدانو ته چي خپله تقوی او زاهدی د نورو پر مخ راوباسي ، نو زاهد ته وايي ، چي ته و هماغه سل دانی تسبيح ،يانی وايي چي هر څوک يو مقصد لری په دي دنيا کي ، چي د زاهدانو مطلب ډيری اړخ ريا او فريب دی ،نو وايي چي : زما يوه قطره اوښکه تويدل ،او ستا د ټول عمر زحمت ،يعنی زما يو سوز او ګداز او ستا ټول عبادت ، يعنی چي لانده بانه او سوز د زړه لرم
برو زاهد ، که هر کس مقصدی دارد درين وادی
تو و صد سبحه جولانی ، من و يک اشک غلطيدن
بيدل،
بيا وايي ، د خود بينه او مغروره زاهد په سترګو کي ، څه رانجه او څه خاوري ،هيڅ فرق نه لري ،ځکه د ژور ليد د کيفيت څخه لکه د رانجو کڅوړه خالی دی ، يعني هغه ليد چي زړه او ظمير يي روښانه کړي ورسره نشته ،
به چشمِ زاهد خود بين ، چه توتيا و چه خاک
که از حقيقت بينش ، چو سرمه دان خاليست
پايله دا چي يو درد من او د خدای تعالی په مينه او محبت کي غرق انسان ته دا ښايي ، چي تل سوز او ګداز ولری ،او نمجني سترګي ولري ، او هره شيبه او هره لمحه په خپل حال متفکر وي ، هغوي چي په دي لاره تللي دي ، ډير حقايق د ژوندون ورته ښکاره شوي ، ،يعنی هغوی چي لمدې سترګي لري دا واضحه ده چي غرور نه لري ، او د فاني دنيا بی وفا يي ويني .او تل زړه سوی او ترحم لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ